**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**٦/ جمادی الأولیٰ /١۴۴٦ هـ، ق مطابق ١٨/ عقرب /١۴٠٣هـ، ش**

# د مسلمانانو تر منځ پر يو بل د نيت بدولو او يو بل سره دښمنۍ پاللو خطرناکې پايلې

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله نستعينه ونستهديه، ونستغفره ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلل فلا هادي له ، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بين يدى الساعة بشيراً ونذيراً ، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً ، فهدى الله به من الضلالة، وبصر به من العمى، وأرشد به من الغي، وفتح به أعيناً عمياً وآذاناً صماً، وقلوباً غُلفاً، حيث بلغ الرسالة وأدى الأمانة، ونصح الأمة، وجاهد في الله حق جهاده، وعبد الله حتى أتاه اليقين من ربه، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً وبعد:

قال الله عَزَّ وجَلَّ في مُحكم كتابه وهو أصدق القائلين: {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَاناً وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ}آل عمران: (١٠٣)

**محترمو حاضرينو !**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د اسلام څخه مخکې د جاهليت په دوران کې، د قبيلو او خلکو ترمنځ جنګ، جګړو او يو بل سره دښمني، اختلافات او يو پر بل د نيت بدول اوج ته رسيدلی وو او د قبيلو ترمنځ جګړې او وژنې تر کلونو کلونو پورې روانې وې او په سلګونو او زرګونو کسان به په کې وژل کيدل او د غيرت په نوم جګړو کې به يو قوم د بل قوم ملا ترله ، برلاسي لورې به د مغلوب لورې زاړه او واړه او ميرمنې ټول له تيغه تيرول. که چيرې ټوله دنيا سره لاس يو کړی وی ترڅو دجاهليت د زمانې دښمني او تربګنې له منځه يوسي او زياتې پيسې او دولت يې هم خرچ کړي وی؛ خو دغه دښمني به يې له منځه نه وی وړی، لکه چې قرآن کريم ددغه بد او ناوړه حالت يادونه کوي او فرمايي:{وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً مَّا أَلَّفَتْ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ } الانفال :(٦٣)

ترجمه:- او الفت محبت يی واچاوه په منځ د زړونو د دغو (مؤمنانو) کښی! که لګولی وی تا هر هغه څه چه په ځمکه کښی دی ټول نو نه به دی شو اچولی الفت محبت په منځ د زړونو د دوی کښی

خو کله چې داسلام ځلیدونکی لمر راوخوت دغه ټولې تیارې او تورتمونه یې له منځه یوړل، له دښمن سره ددوست او ددوست سره د ورور چلند یې د خلکو په زړونو باندې ومنلو او د مسلمانانو ترمنځ مینه ، یووالی او اتحاد رامنځ ته کړ ، بیا نو سلمان فارسي رضي الله عنه او بلال حبشي رضي الله عنه د اسلام د غټې کورنۍ غړي وشمیرل شول.

د اسلام په راتللو سره د جاهلیت د زمانې ټول هغه خصلتونه او عملونه حرام وګرځول شول چې د ټولنې او یووالي په لاره کې خنډ ؤ او د اسلام مبارک دین ټول مسلمانان ورونه ورونه وګرځول او ددوی په زړونو کې یې د ورورولۍ احساس واچولو او مسلمانانو ته یې داسې امر وکړ: {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَاناً }آل عمران: (۱۰۳)

ترجمه:- او منګولی ولګوی (ای مؤمنانو !) په رسۍ د الله (چه قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کیږی (وروسته له اسلامه ).
او یاد کړئ تاسی (ای مؤمنانو !) نعمت (احسان) د الله پر تاسی کله چه وی تاسی دښمنان نو الفت (مینه) ئی پیدا کړه په منځ د زړونو ستاسی کښی نو و ګرځیدی تاسی په نعمت (رحمت) د الله سره (اسلامی) وروڼه.

**تشریح او توضیح:** یعنې په مسلمانانو لازم دي، چې دالله تعالی په کتاب منګلولی ولږوي او په خپلو منځونو کې اختلافاتو او دښمنیو ته دپای ټکې کیږدي؛ ځکه داسلام په برکت دوی اوس ورونه دي او هغه بدې شپې او ورځې رایادې کړئ چې یو بل به مو په ناحقه وژل، چې دا یو ډول عذاب ؤ چې پر تاسو مسلط شوی ؤ ، په روایاتو کې راځي چې د اَوس او خزرج قبیلو ترمنځ دښمني یوسل او شل کلنه شوی وه؛ خو داسلام له برکته هغه اُور مړ شو، نو اوس ټول مسلمانان سره ورونه دي او د ورورۍ تقاضا داده چې د یو بل لپاره خیرخواه اوسیږئ او یو بل ته نیت مه بدوئ او زړونه یو بل ته صفا کړئ او یو بل ته دعاء وکړئ او یو له بل څخه ښښنه وغواړئ او یو مسلمان ورور دې داسې عمل او حرکت ونکړي، چې د بل مسلمان ورور زړه ته ور څخه آزار او آذیت ورسیږي.

داسلام مبارک دین یواځې اختلاف او خپل منځې دښمني ونه ځپله ؛ بلکې هغه اسباب یې هم حرام وګرځول چې د نیت د بدوالي او دښمنیو باعث ګرځي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَلا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلا تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الأِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (۱۱) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلا تَجَسَّسُوا وَلا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ} الحجرات: (۱۲)

ترجمه:- ای هغو کسانو چی ایمان یې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) ټوکې او سپکاوی دې نه کوي هیڅ یو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه ښائي چی وي به دغه (مسخره کړی شوي) بهتره او غوره( په نزد د الله ) له دې مسخره کوونکیو ) څخه او (نه دی ټوکې او سپکاوی کوي) یو ټولی ښځی له تاسی په نورو ښځو ځکه ښائی چی هغه مسخری کړی شوی به بهتری او غوره وي (په نزد د الله له دې مسخره کوونکیو څخه) او مه عیب جوئی کوئ بعضې د تاسو د بعضی نورو ځکه چی بیا د تاسو عیب جوئی هم کیږي چی دا په حقیقت کښې د ځان عیب جوئی ده . او مه غواړئ تاسی یو تربله په بد نومونو او القابو سره بد دي دا دری نومونه( د سخریی، تلمز، تنابز )له جهته د فاسقې وروسته له ایمان درلودلو (لرلو ) څخه او هغه چی تو به یې و نه ایستله نو دغه کسان هم دوی دي ظالمان (پر ځانونو خپلو ) ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو) ځان وساتی تاسې ډیر له بدګمانیو او تهمتونو نه( په خلقو باندې) بیشکه ځینی بدګمانونه او تهمتونه ګناه ده او مه لټوئ تاسی پټ عیبونه د مسلمانانو او نه دې کوي غیبت ځینی ستاسی د ځینو نورو

آیا خوښوی یو له تاسی څخه دا چی وخوري غوښی د ورور خپل حال دا چی مړ وي پس بد ګڼی تاسی هغه نو هم دا رنګه بد و ګڼی د مسلمان ورور غیبت او عیب لټول و ویریږی تاسی له الله تعالی څخه بیشکه الله ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا دی.

**تشریح او توضیح:** د اسلام د ټولو اوامرو او نواهیو څخه مقصد سالمه او نیکبخته ټولنه رامنځ ته کول دي، هغه ټولنه چې د جنګ ،جګړو، شخړو، خصومتونو ، کرکو او نفرتونو څخه پاکه وي او د ټولنې وګړي په خپلو منځو کې له یو بل سره متعاون او همغږي وي. له همدې امله په پورتني آیت کې د ټولو هغو کړنو او عملونو څخه منع شوی ده چې هغه په ټولنه کې بدګماني رامنځ ته کوي او د دښمنیو سبب ګرځی؛ لکه یو په بل پورې مسخرې او ټوکې کول، یو د بل عیب بیانول، یو بل ته بد او ناوړه القاب اخیستل ، بې ځایه په خلکو بدګمانې کول، یو د بل جاسوسي او غیبت کول اوداسې نور چې په احادیثو کې ډیر زیات نور موارد هم په تفصیل سره ذکر شوي دي.

هغه کړنې چې د نیت بدولو او دښمنۍ پاللو سبب ګرځي په لاندې حدیث یې هم یادونه شوی ده. عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :«إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانً». صحيح البخاري (١٣/ ٥٤

ترجمه: - (ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:له ګمان څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې ګمان تر ټولو دروغجنه وینا ده، او د خلکو عورتونو پسې مه ګرځئ، او جاسوسي مه کوئ، او له یوبل سره کینه مه کوئ، او یو بل ته شاه مه اړوئ، او یو پر بل مه غصه کیږئ، او ټول د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه.

الله تعالی مسلمانان د خپل منځی دښمنیواو نیت بدولو څخه منع کړي دي او فرمایلي یې دي چې د تیرو امتونو په شان مه کیږئ، چې په خپل منځ کې یو بل ته نیت بدوئ او یا په خپلو منځو کې دښمنۍ کوئ؛ ځکه دښمنۍ ته لمن وهل شیطاني عمل دی او په کار ده چې مسلمانان ورڅخه ځانونه وساتي. الله تعالی فرمایلي دي:{وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا} الاسراء: (٥٣)

ترجمه:- او ووایه (ای محمده!) (مؤمنانو) بندګانو ځما ته چه وایی دی هغه خبرې چه هغه ډیر غوره دي بیشکه چه شیطان دشمني اچوي په منځ د دوی کښی بیشکه چه شیطان دی دپاره د انسان دشمن ښکاره (چه له سره په نیکی کی روا دار نه دی.)

همدا رنګه په یو بل مبارک آیت کې راځي:{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ} النور: ٢١

ترجمه:-ای هغو کسانو چه ایمان یی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو !) متابعت مه کوئ د شیطان د ګامونو او هر چا چه متابعت وکړ د شیطان د ګامونو، نو بیشکه دغه شیطان امر کوي (تابع خپل ته) په فحشاء ډیرو بدو قبیحو کارونواوپه منکرنامشروعو بدوخبرو

**تشریح او توضیح:** الله تعالی فرمایلي دي چې کله تاسې خبرې کوئ، نو په خوږه او له مهربانۍ څخه په ډکه لهجې سره خبرې کوئ ؛ ځکه شیطان کوښښ کوي چې ستاسې له خولې څخه ناوړه او ددښمنۍ ډکې خبرې وباسي.

همدا راز د نیت بدول او دښمني د شیطان له وسوسو څخه رامنځ ته کیږي ؛ ځکه الله تعالی فرمايي چې د شيطان د قدمونو پیروي مه کوئ ؛ ځکه شیطان د انسان ازلي دښمن دی او هغه قسم خوړلی دی چې زه به دالله بندګان بې لارې کوم چې د هغو بې لاریو څخه یو هم په خپل منځ کې د نیتونو بدول او دښمني پالل دي. په دوهم مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي چې تاسې د شیطان دقدمونو پیروي مه کوئ، ځکه شیطان په فحشاوو او منکراتو امر کوي . د شیطان همدغه کار دی چې مسلمانان بې لارې کړي او په خپل منځو کې یې په مصیبتونو اخته کړي او د همدې کار لپاره په هرحالت کې له انسان سره ملګری وي؛ ترڅو انسان ګمراه کړي؛ لکه په یو حدیث شریف کې راځي : عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَىْءٍ). صحيح مسلم (٦ /١١٤)

ژباړه:- د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: بیشکه شیطان حاضریږي یو د ستاسې ته په هر شی کې.

یعنې شیطان همیش د مسلمان شا نیولي وي، حتی چې د خوراک په وخت کې هم ورسره وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن جابر - رضي الله عنه - قَالَ : سَمِعْتُ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقولُ : «إنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ يَئِسَ أنْ يَعْبُدَهُ المُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ العَرَبِ ، وَلَكِنْ في التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ» . رواه مسلم .

ژباړه:- د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: بیشکه شیطان ددې څخه نا امیده شوی دی چې د هغه عبادت به وکړي مؤمنان (یعنې عبادت به د بوتانو وشی) په جزیرة العرب کې؛ مګر نه دی ناامیده شوی د خلکو د جنګولو څخه.

امام نووي رح ددې حدیث په شرح کې وایي: یعنې شیطان ددې څخه ناامیده شوی دی چې د هغه عبادت به مؤمنان په جزیرة العرب کې وکړي ؛ مګر هغه کوښښ کوي چې دوی یو پر بل په جنګ واچوي او خصومتونه او بد بیني او جګړې او فتنې ددوی ترمنځ رامنځ ته کړي.شرح النووي على مسلم (١٧ /١٥٦)

بناءً مسلمان لره په کار دي چې د خپل ازلي دښمن دسیسو ته متوجه شي او خپل زړه، عقل او جوارح د شیطاني وسوسو څخه وساتي.جنګ،جګړې او دښمني پالل ناوړه او بد صفت دی او په کارده چې مسلمان ددغه خوی او خصلت څخه ځان وساتي.په حدیث شریف کې راځي:عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«كَفَى بِكَ إِثْمًا أَنْ لَا تَزَالَ مُخَاصِمًا».سنن الترمذي (٤ /٣٥٩)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کافي ده تاته دا ګناه چې همیشه خصومت کوی .

دامام دارمي په روایت کې موقوفاً راځي: (وكفى بك إثما ان لا تزال مخاصما وكفى بك إثما ان لا تزال ممارياً) سنن الدارمي(١ /١٠٠)

ژباړه:- او کافي ده تاته دا ګناه چې ته همیشه خصومت کوی او کافي تاته دا ګناه چې ته همیشه جګړه کوی.

جګړې ، خصومتونه او دښمني پالل د منافقانو خوی او خصلت دی. الله تعالی فرمایلي دي: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ} البقرة: (٢٠٤)

ترجمه:- او ځیني له خلقو څخه هغه څوک دي چه په تعجب کې تا آچوي خبره د ده( په کارو د دې) ژوندون لږ کښی او شاهد کوي دی الله په هغه شي چه په زړه د ده کښی دي حال دا چه دی ډیر سخت دی په جګړه او عداوت کښې

يعنې منافق انسان هغه دی چې په ظاهره ډيری خوږې خبرې کوي او د خپل ايمان صفت کوي ، خو په حقيقت کې له مؤمنانو سره تل شخړې او په دومداره توګه جګړې کوي او کار يې په ځمکه کې فساد کول وي.

دښمني کوونکی شخص الله تعالی ته تر ټولو خلکو مبغوض ترين شخص دی. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللَّهِ الأَلَدُّ الْخَصِمُ». صحيح البخاري (٦ /٢٥٥)

ژباړه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه له نبي عليه السلام څخه روايت نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه تر ټولو مبغوض ترين سړی الله تعالی ته هغه سخت جګړه مار دی.( يا هغه په دوامداره توګه خصومت کوونکی دی).

**د مسلمانانو يو بل ته د نيت بدولو او يو بل سره د دښمنۍ پاللو خطرناکې پايلې:**

په نيت بدولو کې او د دښمنۍ په پاللو کې دانسان زړه تل درد کوي او زړه او ماغزه يې په راحت کې نه وي ؛ بلکې تل د مقابل لورې څخه دانتقام اخيستلو په اور کې سوزي . د نيت بدول او دښمنۍ پالل ډيری خطرناکې پايلې لري چې ځينې يې په لاندې توګه دي:

**۱**-کوم کسان چې په خپلو منځو يو بل ته نيت بدوي او دښمني پالي ، د هغو نيک عملونه معلق وي او تر هغې نه قبليږي ترڅو پورې چې هغوی له دښمنۍ څخه توبه نه وي ويستلې او صلحه يې نه وي کړي.په حديث شريف کې راځي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «ثَلَاثَةٌ لَا تَرْتَفِعُ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُؤُوسِهِمْ شِبْرًا: رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، وَأَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ». سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٢ /١١٦)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: درې کسان دې چې نه پورته کيږي لمونځونه ددوی ، دهغوی له سرونو څخه يو لويشت: ۱-يو هغه سړی دی چې يو قوم ته امامت ورکوي په داسې حال کې چې هغوی ده لره بد ګڼونکي وي (ددينې ملاحظاتو په وجه) ۲.-دوهمه هغه ښځه ده چې شپه تيره کړي په داسې حال چې خاوند ور باندې په غوسه وي ۳.- او دريم هغه دوه ورونه (ايماني يا نسبي) دي چې يو د بل سره يې د خصومت په وجه مقاطعه کوي.

په پورتني حديث کې د مقاطعې څخه د نيت بدول او دښمني ده او ددوی لمونځ ځکه نه قبليږي چې په شريعت کې په ناحقه له درې ورځو څخه زياته مقاطعه حرامه ده.

په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ«تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ كُلَّ يَوْمِ اثْنَيْنِ وَخَمِيسٍ فَيُغْفَرُ فِى ذَلِكَ الْيَوْمَيْنِ لِكُلِّ عَبْدٍ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا إِلاَّ مَنْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا».سنن أبى داود - ن (٤ /٤٣٢)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه له نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: خلاصولی شي د جنت دروازې د هرې دوشنبې او پنجشنبې په ورځ ، نو بخشش کيږي په دغو دوه ورځو کې هر هغه بنده ته چې شرک يې نه وي کړی له الله تعالی سره د هيڅ شي؛ مګر (بخشش نه کيږي) هغه چا ته چې دده او دده د ورور(اسلامي ورور يا نسبي ورور) ترمنځ دښمني وي ، نو ويل کيږي(د الله له خوا) انتظار وکړئ دې دواړو ته ترڅو چې سره صلاح او جوړ شي.

ددې حديث ظاهر په دې دلالت کوي چې دوی دواړو ته ترهغې پورې ګناهونه نه ښښل کيږي ترڅو پورې چې دوی سره جوړشوي نه وي او صلحه يې نه وي کړي. مرقاة المفاتيح (١٤/ ٣٣٢)

**۲-** د مسلمانانو تر منځ پر يو بل د نيت بدولو او يو بل سره دښمني پاللو سره اسلامي امت کمزوری کيږي او سپک کيږي او هيبت يې له منځه ځي. الله جل جلاله د خپل منځي دښمنيو په اړه فرمايي:{ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} الانفال: (۴۶)

ترجمه:- او حکم ومنئ تاسی د الله او د رسول د دغه (الله) او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو (په کار د جهاد کښی) پس بی زړه به شئ تاسی او لاړ به شی باد د نصرت «او قوت او د دولت »ستاسی او صبر کوئ (په قتال او سختيو) بيشکه الله له صابرانو سره دی «په جنګ کښی په نصرت او حفاظت»

**شرح او توضيح:** الله تعالی په پورتني مبارک آيت کې مسلمانان په خپلو منځو کې د اختلاف او دښمنيو پاللو څخه منع کړي دي، ځکه چې په خپل منځي دښمنيو او اختلافاتو سره د مسلمانان ټولنه کمزوري کيږي او ددوی قوت او هيبت له منځه ځي.

امام فخر الدين رازي رح ددې آيت په تفسير کې وايې: نزاع ددوه کارونو سبب ګرځي، لومړی: د کمزوزۍ او ضعف. **دوهم:** د ددولت د منځه تلل او ياهم هغه هواء چې الله تعالی د دښمن د شکست لپاره راليږي.تفسير الرازي: (ص: ۲۱٤۹)دار إحياء التراث.

**۳-** دمسلمانانو په منځ کې د نيت بدول او دښمني پالل د سوء خاتمې سبب ګرځي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلاَثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ ». سنن أبى داود-ن (٤ /٤٣١)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: حلال نه دي(جائز نه دي) يو مسلمان ته (داخبره) چې پريږدي(خبری کول ورسره پريږدي) خپل ورور زيات ددرې ورځو څخه ، پس چاچې (خپل ورور) پريښود زيات له درې ورځو څخه او بيا (په دغه موده کې) مړ شو ، داخل به شي اور ته (جهنم ته).

**۴-** د مسلمانانو ترمنځ يو بل ته نيت بدول او يو دبل سره دښمنيو په پاللو کې قطع د صله رحمۍ راځي چې دا کبيره ګناه ده.

که چيرې يو بل ته نيت بدوونکي او دښمني کوونکي خپلوان وي ، دوی په دې کار سره دکبيره ګناه مرتکب کيږي؛ ځکه چې دوی خپلولي پالل له منځه وړی ده او د صله رحمۍ قطع کول کبيره ګناه ده. دغو دواړو ته په کار دي چې ډير ژر له دې ګناه څخه توبه وباسي او په خپلو منځو کې ددښمنۍ پرځای صلحه وکړي. په حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ». متفق عليه

ژباړه:- د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: حلال نه دي(جائز نه دي) يو سړي ته (دا خبره) چې پريږدي ورور خپل (ديني يا نسبي ورورو خبری کول پريږدي) له درې شپو (او ورځو ) څخه زيات، يو له بل سره مخامخ کيږي ، نو مخ اړوي دا او مخ اړوي هغه بل او په دوې کې بهتره هغه دی چې (لومړی) شروع کوي په سلام اچولو سره.

یعنې هغه سړی په دوی کې افضله دی چې مقاطعه ختمه کړي او په خپل دښمن سلام واچوي .

**۵- د مسلمانانو ترمنځ د نیت بدول او دښمني پالل د ملائکو د نفرت سبب ګرځي او د شیطان ملګرتیا زیاتوي.**

که چیرې څوک په بل مسلمان نیت بدوي او یا ورسره دښمني پالي ، نو دا کار دملائکو د نفرت او لری والي باعث ګرځي او په دې کار سره دغه انسان شیطان ته نږدې کیږي چې شیطان ته نږدې کیدل ډیره له خطره ډکه خبره ده؛ ځکه بیا دده اختیار د شیطان په لاس کې لویږي او چې شیطان ورته کومه خبره کوي هغه به یې اوري. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَتَمَ أَبَا بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْجَبُ وَيَتَبَسَّمُ فَلَمَّا أَكْثَرَ رَدَّ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ فَغَضِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَ فَلَحِقَهُ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَانَ يَشْتُمُنِي وَأَنْتَ جَالِسٌ فَلَمَّا رَدَدْتُ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ غَضِبْتَ وَقُمْتَ قَالَ إِنَّهُ كَانَ مَعَكَ مَلَكٌ يَرُدُّ عَنْكَ فَلَمَّا رَدَدْتَ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ وَقَعَ الشَّيْطَانُ فَلَمْ أَكُنْ لِأَقْعُدَ مَعَ الشَّيْطَانِ». مسند أحمد (۱۵ /۳۹۰)

ژباړه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې بیشکه یو سړي کنځل وکړل ابوبکر صدیق رضي الله ته او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ناست ؤ، نو نبي علیه السلام ددې سړي د کنځلو څخه تعجب کولو او تبسم یې کولو، هرکله چې هغه سړي کنځلې زیاتې کړی، ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته د هغه ځینې خبرې ور وګرځولی، نو نبي علیه السلام په قهر شو او له هغه ځایه پاڅیده او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ور پسې شو او ورته یي وویل: ای دالله رسوله! هغه سړي ماته کنځل کول او ته ناست وی او هرکله چې ما هغه ته ځینې خبره ور وګرځوله ، نو په قهر شوی او پاڅیدلې؟ نبي علیه السلام ورته وویل: بیشکه وو له تاسره ملائکه ور ګرځولې یې ستا له طرفه هغه ته د هغه خبرې ، کله چې تا ورته ور وګرځوله بعضې خبره شیطان رامنځ ته شو، پس زه نه یم چې له شیطان سره کینم (په یو مجلس کې).